ملامت آنانند که بر مردم ظلم مي کنند ۰

خداوند مي فرمايد: « هر آيينه واي (ملامت) بر آناني است که بر مردم ظلم مي کنند و در زمين نا حق فساد مي طلبند و آنان راست عذابي درد دهنده .

(شوری - ۴۲)

شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك مركزي نشراتي ارگان

کسي بر کسي ستم نکند

از عياض رضي الله عنه روايت است که : رسول الله «ص» فرمود : هر آيينه خداوند بمن وحي نمود که فروتني کنيد تا کسي بر کسي ستم نکند و کسي بر کسي نتازد .

(رواه مسلم - رياض الصالحين)

دوهم کال پنځه ويشتمه گڼه پرله پسي (۷۵) | چهارشنبه د ۱۳۷۶ هـ ش کال د چنگاښ دمياشتي (٤) | د ۱۹۹۷ ميلادي کال جون (۲۵) | د ۱٤۱۷ هـ ق کال د صفر المظفر (۱۸)

تذکر .خطر ايمان است اگر به اين کلمات مقدس بي حرمتي کنيد .

جناب محترم مولوي صاحب محمد نبي «محمدي» او جناب محترم مولوي صاحب محمد يونس «خالص» له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي :

د اسلامي دولت په وړاندې مقاومت ناجائز او د اولوالأمر په مقابل کي د بغاوت سزا مرگ دى

دافغانانو کورنيو چاروکي د ايران مداخله له اسلامي اصولو څخه مخالفت ده

د شر او فساد ختمول، د خداي(ج) د دين حاکمول، د ملت خوښي او ارامي د طالبانو هدف دى

جناب محترم مولوى محمد نبي «محمدي»

د احزابو تعدد په اسلام کي نشته ، اسلام يو حزب دى

د فدرالي نظام راوستل د افغانستان د ټوټه ټوټه کيدلو په معنی دي

جناب محترم مولوي محمد يونس «خالص»

محترمو لوستونکو! لکه چي تاسي خبر يي په دي وروستيو کي جناب محترم مولوي صاحب محمد نبي «محمدي» او جناب محترم مولوي محمد يونس «خالص» کابل ته يو سفر درلود زموږ خبريال له دوي سره د دوي د سفر د هدف او ځنو مسايلو په هکله مرکه کړيده چي ستاسو درانه حضور ته يې وړاندي کوو .

پوښتنه : محترم مولوي صاحب کابل ته د خپل سفر د هدف په هکله معلومات راکړئ .

محترم مولوى صاحب محمد نبي «محمدي» داسي ځواب راکړ کابل ته زموږ د راتگ هدف دوه شيان دي : لمړي اسلامي حکومت له محترمو مشرانو او مسؤولينو سره د مملکت د نظامي، سياسي اقتصادي او اجتماعي چارو د بهبود او بهتري په هکله سلا او مشوري .

دوهم: له خاصو شخصيتونو سره په ملاقاتونو ملت او عامو مسلمانانو ته د نشر او اشاعي له لاري نيک نظريات، لازم هدايات او سالم بصيرتونه ورکول په دي اړه مو د اسلامي دولت د عالي شوري محترم رئيس

ځلورم مخ

د سرپرستي شوري محترم رئيس او محترم مرستيال له دوه تنو محترمو جهادي شخصيتونو سره وکتل

د افغانستان د اسلامي دولت د سرپرستي شورا رئيس محترم الحاج ملا محمد رباني د سرپرستي شورا مرستيال محترم الحاج ملا محمد حسن اخند په داسي حال کي چي د افغانستان د اسلامي دولت يو شمير سرپرست وزيران هم حاضر وو د هيواد له دوو تنو جهادي شخصيتونو هر يو محترم مولوي محمدنبي محمدي ، محترم مولوي محمد يونس خالص او له ملگري هيئت سره يې وکتل .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ پدي کتنه کي د علاقي وړ مسئلو او د هيواد د سياسي او پوځي پرمختياو او بدلونونو په باره کي خبري اتري وشوي .

دغه راز پدي کتنه کي دي جهادي شخصيتونو د هغو پيښو او بدلونونو له امله چي د افغانستان د اسلامي دولت د هلو ځلو له امله د مسلمه امت د نيکمرغي اوسو کالي او په هيواد کي د سراسري سولي د تأمين په لاره کي شويدي قدرداني وکړه او د عاليقدر امير المؤمنين په مشري يې په افغانستان کي د اسلامي واکمني دستنو د لا زيات ټينگښت غوښتنه وکړه .

پروتوکول کمکهاي طبي با موسسه دکتوران بي سرحد عقد گرديد

پروتوکول کمکهاي طبي موسسه دوکتوران بي سرحد براي شفاخانه هاي شهر کابل و ولايات غزني و پکتيا روز ۳۱ جوزا در مقر وزارت صحت عامه عقد گرديد .

اژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : پروتوکول متذکره را محترم داکتر سيد فضل الرباني معين وزارت صحت عامه در حاليکه رئيس روابط بين المللي وزارت

ص(٤)

د شکردري د ولسوالي ډيره برخه له ماينونو نه پاکه شوه

د عظمي صدارت له پيښو سره د مبارزي د اداري د خبر له مخي د کابل ولايت د شکردري ولسوالي د لغوابي سيمي يوولس زره دري څلور مربع متره ځمکه د ماينونو او ناچاودلو مواد و له شتون نه د ماين پاکوني د ټيمونو له خوا پاکه شوي او د ژوند تيرولو او کارو بار ته چمتو شوه .

د غزني ولايت د مرکز او د مقر د ولسوالي تر منځ ټيلفوني ارتباط تأمين شو

د غزني ولايت د مرکز او ددغه ولايت د مقر ولسوالي تر منځ ټيلفوني ارتباط تأمين شو

دغزني ولايت د مخابراتو د مديريت يو خبر ځاى د باختر اطلاعاتي آژانس ته وويل : د مخابروي اسانتياو د برابرولو په مقصد د مقر ولسوالي د ټيلفون دستگاه چي له پنځو کلونو را پديخوا غير فعاله وه د غزني ولايت د مخابراتو د مديريت د هلو ځلو له امله د يوه ځلويښت لينه سوچبورد په درولو سره بيا فعاله

۳ مخ

په ارزگان کي پنځوس کيلو متره سرك ترميم شو

پنځوس کيلو متره سرك په دي وروستيو وختونو کي د خلکو په هر اړخيزه همکاريو د ارزگان ولايت د اجرستان له ولسوالي نه تر خاص ارزگان پوري ترميم اود ترافيکو فعاليت ته چمتو شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : ددي سرك په کار کي چي د انجنير بسم الله تر نظر لاندي پيل شوي ځه د ... سره تنو په داوطلبانه توگه ونده اخستي همدا راز ددغه سرك په ترميم کي ددغه ځاي خلکو يو سلو پنځوس مليونه افغاني لگولي دي او ددي سرك په ترميم ددي ولسوالي خلکو ته لازمي اسانتياوي برابري شوي دي .

بايد ووېل شي چي د هيواد د زياتو ولايتونو د خلکو له خوا د سرکونو د ترميمولو او جوړولو لړۍ دوام لري .

د اطلاعاتو او کلتور وزارت مالي او اداري معين او د شريعت اوونيزي مسؤول مدير د پاکستاني علماً وله هيئت سره وکتل

د شريعت اوونيزي خبريال خبر راکړ چي د روان کال د چنگاښ په دريمه چي د سه شنبي له ورځي سره سمون خوري د اطلاعاتو او کلتور وزارت مالي او اداري معين او د شريعت اوونيزي مسؤول مدير د پاکستاني علماً و له يو هيئت سره د خپل کار په دفتر کي وکتل .

په خبر کي ويل شويدي چي د کتني په پيل کي محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمدهوتك د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د اجراآتو او فعاليتونو او د شريعت اوونيزي د خپرونو د څرنگوالي په هکله د علماء و دي محترم هيئت ته معلومات ورکړ .

د محترم الحاج هوتك له وينا وروسته پاکستاني علماً و د

ځلورم مخ

د ننگرهار، خوست او لوگر ولايتونو بيلا بيلو قومونو د پراخو غونډو په ترڅ کي د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ اعلان کړ

د ننگرهار،خوست او لوگر ولاياتو شريفو او متدينو قومونو د يو لړ پراخو غونډو په ترڅ کي ژمنه وکړه چي د خپل اسلامي دولت د لا استحکام د شريعت د نفاذ او په هيواد کي د سولي د تأمين په لاره کي به له هيڅ راز سرښندني نه ډډه ونکړي .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د خوست د قومونو جرگي په هغه غونډه کي چي له اسلامي دولت سره د حمايت او ملاتړد اعلان په خاطر بې جوړه کړې وه د خوست والي محترم الحاج سيد عبدالله اغا د افغانستان د اسلامي دولت د هدفونو او پروگرامونو په هکله خبري وکړي او په هيواد کي د سولي او ارامتيا د راوستلو په لاره کي يې د قومي مشرانو رول څرگند کړ په مقابل کي د قومونو خو تنو مشرانو خبري وکړي او له خپل اسلامي دولت سره د ملاتړ د څرگندولو په ترڅ کي يې د جبهو لمړيو کرښو ته د وړتيک او د گلم جم د مليشو او ملحدينو او مؤتلفينو په خلاف يې مبارزي ته خپل تياري څرگنده کړ .

په خبر کي ويل شوي دي په هغي غونډه کي چي له هندي امله د ننگرهار ولايت د هسکي مينې په ولسوالي کي جوړه شوي وه ددي ولسوالي ولسوال محترم ملا نور هادي او څو تنو سپين ږيرو او مشرانو خبري وکړي او په افغانستان کي د اسلامي شريعت د تطبيق، سولي ، ارامتيا او ملحدو او کمونستو عناصرو تر بشپړ نابودولو پوري يې جهاد او مبارزي ته چمتو والي څرگند کړ .

په خبر کي ويل شوي چي د پکتيا، خوست، او لوگر ولايت د نيازيو قوم هم له اسلامي دولت سره بشپړ پيوستون او ملاتړ اعلان کړ . خبر زياتوي چي ددي قوم يو تن مشر ملك روزي خان د خپل قوم دوه سوه ځوانان دمحترم ملا سلطان او محترم مولوي محمود تر قوماندي لاندي د اسلامي اردو د ځواکونو تر څنگ د جبهو لمړيو کرښو ته وليږل .

د قضايي تعليماتو د دويمي دوري د فارغانو تصديق ليکونه وويشل شول

د قضايي تعليماتو د عالي کورس د دويمي دوري فارغانو تصديق ليکونه د غبرگولي په ۳۱مه د ستري محکمي د کنفرانسونو په تالارکي د يوي غونډي په ترڅ کي وويشل شول .

په غونډه کي لومړي د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شو وروسته په جزايي

ص(٤)

در دور فاينل مسابقات انتخاباتي واليبال ، تيم الف پوهنتون، مقام اول و تيم معارف مقام دوم را کسب نمود

خبرنگار ورزشي هفته نامه «شريعت» گزارش داد : مسابقات انتخاباتي واليبال که به منظور گزينش بهترين واليبالران براي تيم هاي منتخب (کابل الف و ب کابل) به اهتمام کميته ملي المپيک بتاريخ ۱۳۷۶/۳/۲۲ در جمنازيوم مدرسه اماني داير گرديده بود، دور فاينل اين مسابقات بين

ص(٤)

سرمقاله

دلري خداي (ج) په نامه

هرڅوك يي به پيژني

به ! نو بيا ولي ؟

هغه د پردو مزدوران چي زموږ په هيواد کي بې بې حسابه ظلمونه او ناروا وي کړي وي او اوس د اسلامي شريعت په ضد ، د اسلامي دولت په ضد، د هيواد د مجاهد او مسلمان ولس د گټو او سوکالي په ضد جنگيږي هر څوك پوهيږي چي دوي بيا د افغان تاج او تخت ته نه رسيدلاي شي او نه به له دوي سره دا تمه وي ؛ ځکه چي دوي اوس د افغانستان مسلمان او حيرك ملت رټلي دي ، سخته کرکه او نفرت ورڅخه لري، د دوي بد عمل ، ناروا وي، راکټونه ويشتل، وژني، په سرونو ميخونه وهل، انسانان ذبح کول او پخول، غوښي يې په بنديانو خوړل او نور داسي ظلمونه چي په ياد ولويي زړه درد کوي؛ ددوي دغه د زهرو غړيونه د افغانستان مسلمان ولس له کمونستانو نه اوروسته نژدي پنځه کاله زغملي دي، اوس ددي خبري عملي امکان بيخي له منځه تللي دي چي د هيواد مسلمانان به يې يو ځل په خپل سر سپاه سالاران کړي، له همدي امله ځني بد خواه گاونډيان چي په افغانستان کي د پراخ بنسټه حکومت خبري کوي او مقصد يې ددغو رټل شويو او پردېو مزدورانو شاملول وي يا د ملگرو ملتونو استازي دغسي هڅي کوي - که څه هم په ظاهره اسولي خبره ښکاريږي- مگر په افغاني ټولنه کي يې بيخي د عملي کيدو چانس له منځه تللي دي زموږ هيواد والو اوس دغه حوصله بيخي له لاسه ورکړي ده چي يو ځل بيا د هغو ظالمانو تور مخ ووينې دا خو لا پريږده چي په خپل لاس يې د خپل سر له پاسه يو ځل بيا پاچك سالاران، پهلوان سالاران او قوماندان سالاران کړي ؟

نوښه! بيا ولي؟ دغه رټل شوي ظالمان ، فاسقان او ملحدان د اسلامي دولت په ضد، د اسلامي شريعت په ضد، دامن او ارامي، د خلکو د گټو او سوکالي په ضد جنگيږي ؟

دا ددي لپاره چي له روس او ايران سره يې د هغوي د هر راز گټو خوندي

دوهم مخ

به کابل کي ۲۱۰۰ بيرله قير کشف او تر لاسه شول

دري زره دوه سوه بير له قير د کابل ښار د څلورمي ناحيي مربوط ساحي نه کشف او لاس ته راغلل .

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ : دغه قير د کورنيو چارو وزارت له جنايي جرمونو سره د مبارزي د عمومي رياست د مؤظفينو د هلو ځلو له امله د ناپښتو له ساحي نه کشف او د استفادي په مقصد د کندهار او کابل ښاروالۍ ساختماني تصديو ته وسپارل شول .

چندين فابريکه در کابل به توليد آغاز نمودند

فابريکات صابون سازي، صنايع افغان و خشت بگرامي مجدداً احياء و به توليدآغاز نمود .

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش ميدهد فابريکات مذکور که به اثر جنگ هاي بي هدف ملحدين و مؤتلفين کاملاًتخريب و از بين رفته بود به کمك مالي موسسه سوليدارتي مجدداً احيا و اماده بهره برداري گرديد .

موسسه سوليدارتي يك موسسه غير حکومتي بوده که در بخش هاي بشر دوستانه در امر احياء و باز سازي ساحات جنگ زده خدمات ارزنده را انجام داده است .

مساعدت هاي سره مياشت با مستحقين ادامه دارد

به ارزش دوصد و بيست و يك مبليون و دو صد هزار افغاني مساعدت هاي جمعيت افغاني سره مياشت اخيراً به مستحقين شهر کابل توزيع گرديد .

خبرنگار هفته نامه شريعت خبر داد : مساعدت متذکره که شامل آرد، روغن و لوبيا ميباشد براي ٦٣۲ فاميل مستحق نواحي پنجم، ششم و دهم شهر کابل توزيع گرديد . سلسله مساعدت هاي آن جمعيت به بيوه زنان و نيازمندان کشور ادامه دارد .

د کابل ښار د يوولسمي ناحيي مسؤولينو ته د يوې غونډي په ترڅ کې يوه اندازه ولې او مهمات وسپارل شول

د کابل ښار د يوولسمي ناحيي د بيا احيا کولو شوري غونډه وکړه او د ناحيي مسؤولينو ته يې يو اندازه مالونه او وسلې تسليم کړي

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : په هغي غونډه کي چي له همدي امله د يوولسمي ناحيي په مرکز کي جوړه شوه د گذر وکيلانو د استخباراتو د رياست استازو او ددي ناحيي کار کرانو او منسوبينو گډون کړي و په غونډه کي لمړي د قرآن مجيد څو ايتونه ولوستل شول بيا ددي ناحيي سر پرست د افغانستان د اسلامي دولت د هدفونو په باب هر اړخيزي خبري وکړي او ددغي ناحيي د گذر وکيلان يې له

ځلورم مخ

در ٦٨ کشور جهان بيشتر از يکصد کمپني، ۲٤۰ نوع ماينهاي ضد پرسونل را توليد مي نمايند

مجمع مبارزه افغانها عليه ماين، ماه سرطان سال جاري را ماه مبارزه افغانها عليه ماين تعين نموده است

اين کمپني ها سالانه پنج تا ده مليون ماين جديد توليد نموده و فعلاً بر علاوه، بيش از ۱۱۰ مليون ماين که در جهان استعمال شده تقريباً ۱۰۰ مليون ماين ديگر در انبار خانه هاي

ص(٤)

تاريخ کشور ما نشان داده است که تشکيل ائتلاف ها و اتحاد ها که روي تحميل و هدايات اجانب به ميان آمده به حل مشکل کشور ما قادر نگرديده بلکه هر بار فاجعه و تراژيدي جديدي را به ميان آورده است

شريعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (١٠٠٠) افغانۍ
په پاکستان کې (٢) کلداري
آدرس : کابل وزیر اکبر خان مینه / سرك ١١٥ / کور (٥٢٠)
تیلفون : ٢٦٢٨١ – توزیع و شکایات ٦٢٨٥٩
پوسټ بکس : (٥٧١)
په پېښور کې : دطالبانو نمایندګي / تیلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧

د سرمقاله پاتې برخه

ساتلو پروتوکولونه لاس لیك کړي دي او په هغو بې ځانونه پلوړلي دي – لکه چي د یوه غربي ځیرونکي بروس ریچارډ سن په یو نوي کتاب کي دغه اسرار لوڅ شوي دي – اوس چي په افغانستان کي ورځ په ورځ د اسلامي دولت پایې ټینګیږي ، اسلامي شریعت او د اسلامي دولت د امن، ډاډ او سوکالۍ د پروګرامونو ولولې د طالبانو تر واك لاندې سیمو ته ځان رسوي او د مسلمانو هیواد والو زړونو ته ننوزي په دغه وخت کي د اسلام په دښمنانو (روس ایران او د دوی چوپړیانو) باندي بې اوره بلیږي او شبیه په شبیه د اسمان تندر ور باندي رالویږي تو خپلو افغاني ډوله نوکرانو ته پریمانه پیسې په خوراکي او لوژستیکي موادو او مهماتو بارالوتکي وراستوي او قوماندې ورکوي چي : (... هوش ! هوش! که در افغانستان امن و ارامي نباید ورنه ګوشمالي مي شوید ...) نو ځکه پلونه، د اوبو بندونه، تونلونه او نور دولتي مؤسسات په بار و توالوزوي او د پردو خلکو ژامن چي په زوریې له کورونو نه راپاسي د اسلامي اردو د ځواکونو مرګوني ګوذارونو ته بې وسې ته کوي، وژل کیږي ، اسیران او ټپیان کیږي او په میدان کي پراته یې پریږدي :

له دې سره سره دغه د پردو چوپړیان ددې خبرې هیڅ تمه او تصور نه کوي چي یو ځل به بیا په هیواد کي هغه د چور، چپاول، بې عزتیو او وران کار یو رژیم په پښو ودروي ، بلکي یوازې دومره غواړي چي د خپلو بادارانو د خوشالولو او د مردار چوپړ، مرداري مزدوري جاري ساتلو لپاره څو وخته سیمه کي د امن، سوکالي او اسلامي شریعت د نفاذ مخه ونیسي!

د پردیو د غلامي او د شرمیدلي چوپړ مخ په داسې ځه پټیول غواړي چي له دغه شرمیدلي او رسوا عمل نه یې هغه د خیال پټونې پرده لاپسې رسوا او شرمیدلې ده : هغه دا چي د اسلام او مسلمانو هیواد والو په ګټه د اسلامي دولت ځواکونه چي د خپلو غیرتي او مسلمانو هیواد والو په غوږ ملاتړ سره د شریعت نافذولو ، امن او سوکالي لپاره پر مخ تګ کوي دوی یې د پاکستان په مداخله سره تعبیروي، دا څومره د پیغور خبره ده چي څوك ځان د یوه هیواد قانوني دولت بولي اوشریر ګاونډیان یې هم غولوي او قانوني دولت یې بولي مګر د یو څا د مداخلي بنتولو سیك نه لري، پاکستان هغه ګاونډي هیواد دي چي په سختو شیبو کي یې موږ ته په خپل کورکي ځاي راکړ او زموږ د ملاتړ لپاره یې د هغه وخت د شوروي اتحاد دښمني ومنله ، رباني به یې په ډېره غوږه ژبه تل مداحي کوله او مسعود (تامسعود) ته یې دده دورتګ په وخت دومره پیسې، سلاح، مهمات او موټري ورکړي چي دي پخپله ورته هك حیران ؤ .

هوا موږ د نړۍ د مسلمانانو د مرستو او احسان ممنون یو مګر په زغرده ویلاي شو چي د هیچا نوکران نه یو، یوازې د الله تعالی حلقه بګوش بندګان او د خپلو خلکو خدمتګاران او د تواميسو ساتونکي یو!

پاکستان علماي کرام او طالبان او عوام چي زموږ د علم استاذان، همدرسان، د اطاق ملګري او د هجرت کلیوال دي یې لکه شکه زموږ په هیواد کي په ارامي راتللو او اسلامي شریعت په عملي کیدلو بې حده خوشاله دي، دلته د شریعت د نفاذ د اثارو لیدلو ، مبارکي ویلو دوستانو او ملګرو زیارت کولو او سوکالي لیدلو لپاره په سیاحت سره ډلي ډلي راځي او ځي مګردوي د پاکستان د دولت داسې مسلح پوځیان او پوځي مشاورین بېخي نه دي لکه د ایران پوځیان او پوځي پلان ګذاران په بامیانو او روسي مشاورین په مزار شریف او تخار کي؛ دا خبره لکه چي اوس واضح ده په افغانستان کي د اسلامي دولت له پوره واکمنې نه په وروسته لا پسې څرګنده شي انشاء الله تعالی ؟

سعودي عربستان ، عربي متحده اماراتو او پاکستان چي د افغانستان اسلامي دولت په رسمیت پیژندلي دي انصاف یې کړي دي او د یوه دولت د په رسمیت پیژندني د شرطونو په تحقق یې سترګي نه دي پټې کړي لکه ایران ، روس او ددوي قرمانبران چي کله په شا یې دفتر او یې کابینې مسافر رباني د افغانستان جمهور رئیس !!! بولي کیداي شي روس او ایران او د دوی اتیوالان په زړه کي ځان شرمنده او ملامت وګڼي نو ځکه د روس د خارجه چارو د وزارت مرستیال له خبرنګارانو سره په مرکه کي ځني نوي څرګندوني وکړې : (... طالبان په افغانستان کي یو قوي نظامي او سیاسي ځواك دي ... زه له هغو سره په اسلام آباد کي خپله رسمي کتنه پر ځاي بولم ...) په شمال کي روان تحولات په لومړي سرکي د اسلامي دولت د مخالفینو او د خلکو د دښمنانو په ګټه تعبیریدل مګر کراره کرار په حقائقو پټې سترګي به حالات او مجبوریتونه رالوځې کړي انشاء الله تعالی .

ایران و تحریف تاریخ

محملی برای ادعای ارضی بر قلمرو افغانستان

احمد وحید «مژده»

٣

نویسندگان هر دو کتاب بر وقایع پس از سلطهٔ عرب بر ایران و خراسان تا ظهور صفاریان سخن زیادي ندارند .نویسندهٔ کتاب (اختلاف دولتین ایران و افغانستان در مورد رود هیرمند) تاریخ این دورهٔ ایران را چنین خلاصه مي کند :

« پس از حملهٔ اعراب به ایران و فتح آن، ایران نیز جزو مملکت بزرگ اسلامي گردید که از ماوراء النهر تا بشمال افریقا وسعت داشت و چون تا دیر زماني جزو ممالك اسلامي شمرده مي شد از خود حکومت مستقلي نداشت از این رو داراي حدود معین و مشخصي بنام ایران نبود. تا زمان پیدا یش سلسله صفاري که استقلال ایران و تجزیهٔ ممالك اسلامي آغاز شد در آن زمان خراسان و سیستان در مشرق جزو حکومت صفاریان بود . »

نویسندگان هر دو کتاب ادعاي ارضي بر افغانستان امروز را از قرن سوم هجري قمري پي مي گیرند . در کتاب (گزیدهٔ اسناد سیاسي ایران و افغانستان)چنین مي خوانیم:

«... ولي از آغاز قرن سوم هجري با تشکیل حکومت هاي متقارن مستقل و نیمه مستقل طاهري، صفاري و ساماني، این مرز هاي شرق خلافت عباسي تحت امر سلسله هاي ایراني در آمد .

طاهریان در مدت پنجاه سال حکومت بر ایران، مناطق واقع در شمال و غرب هندوکش و بخش وسیعي از ایران را در قبضه خود داشتند . اینان بدنبال نبرد هاي داخلي، اریکهٔ حکومت را به صفاریان بر خاسته از سیستان واگذار کردند . صفاریان ... براي نخستین بار مناطق واقع در شمال و جنوب هندوکش را متحد کرده و تحت لواي خود در آوردند ...

یعقوب لیث موسس سلسله صفاریان پس از آنکه به سلطنت رسید زابلستان و کابلستان یعني غزنه، قندهار، کابل و هرات را تصرف کرد. سکه هاي که از وي بدست آمده در پنجشیر (کوهستان کابل) ضرب زده شده ...»

معلوم نیست که منظور نویسنده این کتاب و مورخین ایراني از قماش وي از (سلسله هاي ایراني) چیست! اگر بگویند که پادشاهان و امراي این سلسله ها(آریایي) و یا (خراساني) بوده اند در آنصورت درست است اما واژهٔ ایراني را در صفت این سلسله ها بکار گرفتن و سپس از فتوحات آنان در شمال و جنوب هندوکش سخن راندن به این معني است که آنها مردمان بیگانه بوده و از ایران بعزم کشور گشایي به این سمت لشکر کشیده اند و این خلاف حقایق تاریخي است که تصریح میکند آنها سلسله هاي برخاسته از خراسان ... و مخصوصاً آن بخش از خراسان که افغانستان امروز بخشي از آن بوده است بوده اند .

طاهریان هرات یکي از خانواده هاي معزز و با نفوذ در دربار عباسیان در بغداد بودند . طاهر پوشنجي موسس این سلسله و معروف به طاهر ذوالیمینین در پوشنگ یا پوشنج (زنده جان از توابع هرات امروز) بدنیا آمده است طاهریان در حالیکه نفوذ عرب در خراسان را نمي خواستند و از نوعي خود مختاري داخلي حمایت مي کردند در عین حال به دین و آئین خود اسلام سخت متمسك بودند . آنها با خوارج در سیستان و قیام هاي که آن بدعت و مخالفت با اسلام آشکار بود چه در ایران و چه در شام و حتي مصر مخالفت نموده و با آن جنگیدند .

عبدالله بن طاهر قیام (بابك خرم دین) در آذربایجان و ایران را در هم شکست . (خرم دینان) که آنها را (سرخ جامگان) نیز مي نامند در تحت لواي مخالفت با نفوذ اعراب حرکتي ضد اسلامي بود . (عجیب اینجاست که بسیاري از مؤرخین ایراني بدون در نظر گرفتن ماهیت ضد اسلامي این قیام آنرا یك قیام ملي علیه سلطه اعراب بشمار آورده تائید مي کنند در حالیکه این قیام نه بوسیله اعراب بلکه بوسیله طاهریان سرکوب شد .) بنا بر این اگر قرار باشد که چنین تحرکات را فتوحات تلقي کنیم چنین فتوحات را طاهریان در قلمرو ایران انجام داده اند نه در سرزمیني که خود به آن منسوب اند و از آنجا برخاسته اند. شهر نیشاپور پایتخت این سلسله بود .

در مورد صفاریان نیز همین قاعده صادق است . یعقوب لیث صفاري از مردم سیستان بود و از آنجا که در شهر زرنج مدتي را در شاګردي یك مسگر سپري کرد در تاریخ وي را صفار و این سلسله را صفاریان نامیده اند او پس از اینکه خراسان را از تسلط عباسیان رهایي بخشید متوجه ایران شد و در ٨٧٤ هـ ق محمد بن واصل والي عباسي ایران را شکست داد و ایران را ضمیمه قلمرو خود ساخت .

در کتاب (اختلاف دولتین ایران و افغانستان ...) در مورد سلسله سامانیان آمده است :

« در دوره سامانیان نیز که حکومت آنها نخست در ماوراء النهر تشکیل شده بود، بلخ، سیستان و خراسان آن زمان جزو قلمرو آنان در آمد »

حرف نویسنده کتاب همانست که بود، بلخ و سیستان و راسان فتح شده و آنهم بدست یك سلسله ایراني ! اکنون ببینیم که این سلسله تا چه حد ایراني است . تاریخ مي گوید که سامانیان از مردم بلخ بودند (سامان خدا) موسس این خاندان حاکم بلخ بود که بعداً دین اسلام را پذیرفت . و به همین گونه است سلسله غزنوي که مورخین ایراني با افتخار از آن بعنوان یك سلسله ایراني که امپراتوري بزرگي را تشکیل داد نام مي برند

در کتاب (گزیدهٔ اسناد سیاسي ایران و افغانستان...) در مورد سلطان محمود غزنوي چنین آمده است :

« سلطان محمود با بر افراشتن پرچم اسلام توانست قبایل افغان را به جرگه سپاهیان خود بکشاند. محمود در حالیکه به شخص ترك بود بخش اعظم سپاهیانش را افراد اجیر شده یي از قبایل افغان تامین مي کردند و هم اینان بودند که طلایه داران لشکر سلطان محمود در حمله به هند و استیلاي مسلمانان بر این سرزمین را تشکیل میدادند . گفتني است که در همین دوره بود که افغانها همګي به دین اسلام گرویدند و بدور از ابهام و انزواي دیرینه به نحو مشخص و روشن در تاریخ مطرح شدند » .

این حرف درست است که سربازان محمود غزنوي همه افغان بودند و هر پادشاهي بنا بر راه و رسم پادشاهي در آن دور سرباز از ملت خود مي گرفت افغانها بودند که در رکاب سلطان شان محمود غزنوي هندوستان را فتح کردند چنانچه (جواهر و لعل نهرو) یکي از صدرعظمان سابق هند در کتاب خویش (نګاهي به تاریخ جهان) خطاب به دخترش (اندیرا گاندي) که همین نکته را تذکر مي دهد و تصریح مي کند که آنهایي که به هندوستان حمله ور شدند و سومنات را ویران کردند نه عرب بودند و نه ایراني آنها افغان بودند .

نویسنده به مسئله قومیت و نژاد سلطان محمود نیز پرداخته و او را (ترك) خوانده است سوال اینجاست که پادشاهي از تبار ترك که پایتخت وي نیز شهر غزنه در افغانستان واقع است و لشکریانش نیز افغان بوده اند از دیدگاه تاریخ چه چیزي را ثابت مي کند ؟ اینکه افغانستان امروز بخشي از ایران امروز بوده و یا بر عکس ؟ و از طرف دیگر سلطان محمود را بر چه بنیاد مي توان (ایراني) خواند ؟ سلسله هاي دیگر چون سلجوقیان، غوریان و خوارزمشاهیان نیز از همین گونه بوده اند و لزومي به تشریح تاریخ هر کدام نیست . حکومت آل کرت در هرات که از اعقاب غوریان بودند نیز نشان از استقلال این قلمرو مرد خیز حتي در دوران هجوم مغول دارد . پس از چنگیز و تیمور لنگ بار دیگر هرات باستان در عهد تیموریان هرات بعنوان مهد علم و فرهنگ درین خطه قد علم کرد که بخش بزرگي از خراسان زمین از جمله بخش هاي از ایران را نیز تحت سلطه داشت .

تمام این سلسله ها همانقدر (ایراني) بوده اند که مثلاً آقاي (جلال الدین فارسي) ایراني است !

چند سال قبل موقعیکه براي نخستین بار انتخابات ریاست جمهوري در ایران بر گزار مي شد (جلال الدین فارسي) نیز در قطار کاندیدا هاي این مقام قرار داشت . فارسي نه تنها از همرزمان آقاي آیت الله خمیني بود بلکه از جمله نویسندگان خوب ایران نیز بشمار مي رفت . اندکي قبل از انتخابات افشا شد که آقاي (فارسي) ایراني الاصل نیست! غوغایي براه افتاد و معلوم شد که پدر آقاي (جلال الدین فارسي) از هرات افغانستان بوده است! نام وي از لست کاندیدا ها حذف شد و از آن ببعد وي از سیاست کناره کشي اختیار کرد .

از این آقاي مورخ و امثال وي باید پرسید که به کدام دلایل مثلاً سلطان محمود غزنوي ایراني الاصل است و آقاي فارسي چنین نیست ؟ معیار ایراني بودن و نبودن از نظر آقایان چیست ؟!!

تناقض دیگري که در گفتار نویسنده کتاب وجود دارد اینست که از یکطرف مي نویسد که(سلطان محمود با افراشتن پرچم اسلام توانست قبایل افغان را به جرگه سپاهیان خود بکشاند) این سخن نویسنده دلیل بر اینست که افغانها درین دوره مسلمان بوده و بخاطر گسترش اسلام به سپاه محمود پیوستند و در چند سطر بعد مي نویسد که (و در همین دوره بود که افغانها همګي به دین اسلام گرویدند) معلوم نیست منظور نویسنده از این تناقض گویي چیست . اینکه محمود در ابتدا افغانها را مسلمان ساخت و بعد با لشکري از این شان مسلمانان به هند حمله ور شد ؟ اگر منظور همین باشد پس چرا در هیچ تاریخ معتبر از دوره غزنویان این مطلب نیامده است ؟

در کتاب (گزیده اسناد سیاسي ایران و افغانستان) مطالب مبهمي هم در رابطه با سلسلهٔ لودي که هفتاد سال بر هند حکومت کردند و نیز سلسله گورگانیان در هند آمده است و همچنان تذکري از حکومت شیباني ها در آسیاي میانه که بوسیله محمد خان شیباني تاسیس شد . سخن نویسنده کتاب اینست که (از این زمان تقریباً دو قرن شهر هاي کابل، هرات و قندهار بار ها میان دولت ها بنا به شدت و ضعف هر سلسله دست بدست مي شد) . نویسنده این مسئله را مطرح نمي کند که آیا سلسله هاي گورگاني و لودي و شیباني هم ایراني بوده اند و یا نه در اینجا بیشتر مسئله بر سر دست بدست شدن شهر هاي کابل، هرات و قندهار است که از خود استقلال نداشته و تسلیم زورد بوده اند در حالیکه لودي ها افغان بوده اند و بابر شان نیز تعلق بیشتر با افغانستان داشته است . پایتخت تابستاني وي شهر کابل بود و مقبره وي در کابل است اینکه پسرش در جنگ با یك سلسله دیگر افغان در هند یعني سوري ها از ایران کمك گرفت به معني (ایراني شدن) وي نیست آنگونه که نویسندهٔ کتاب مي نویسد : « پس از مرگ بابر فرزندش همایون براي کسب تاج و تخت هندوستان بدربار صفوي ملتجي شد . وي بعد از پانزده سال اقامت در دربارشاه طهماسب عاقبت با کمك و مساعدت این پادشاه قدرتمند صفوي توانست بر اورنگ سلطنت هندوستان تکیه زند . در زمان شاه عباس ثاني این ناحیه دو باره به ایران ضم گردید . بدین ترتیب کشمکش هاي ایران و هند بر سر قندهار به قبایل محلي این امکان را بخشید تا در اواخر عهد صفوي سر از اطاعت بپچیند و به دارالسطنهٔ اصفهان حمله ور شوند »

مسئله اخیر اشاره به قیام میرویس خان هوتك در قندهار است . فتح اصفهان پایتخت ایران درین دوره بوسیله شاه محمود هوتکي و اینکه شاه صفوي ایران تاج خود را بر سر محمود افغان گذاشت او را مؤرخین ایراني بنام (فتنه، افاغنه) یاد مي کنند . از این مورخین باید پرسید که اینکه شما مدعي هستید که درین دوره قندهار تحت تسلط ایران بوده است آیا منظور شما خاك و قلمرو قندهار است و یا مردم قندهار را نیز در بر مي گرفت ؟ اگر درین قلمرو مردمي زندگي مي کرده اند پس بنا بر ادعاي شما آنها را باید (ایراني) خواند و حمله این مردم به پایتخت ایران و فتح آن باید یك مسئله داخلي میان ایراني ها بشمار مي آمد اما اینکه شما این واقعه را (فتنه، افاغنه) و حرکتي از خارج مي خوانید بوضاحت نشان میدهد که شما مردم این قلمرو را بیگانه بشمار مي آورید که این منطقه جزوي از ایران نبوده و تسلط از راه زور حقي را از جانب ایران بر قلمرو افغانستان ثابت نمي کند و اگر چنین نیست پس باید تسلط افغانها بر اصفهان در عهد هوتکي ها نیز چنین حقي را براي افغانستان نیز متضمن باشد .

ادا مه دارد

د شریعت تبصره

د افغاني سوداګرو په مالونو ترانزیټي بندیز په اسلامي او بشري حقونو د ایراني واکمنو یو بل تیري

ایران زموږ نږدې ګاونډي اسلامي هیواد دي ، ددې هیواد اوسېدونکي له افغانانو سره دیني، اجتماعي عنعنوي او تاریخي اوږدې اړیکي او ریښې لري. په دې کي هیڅ شك نشته چي د ایران مسلمان ولس با احساسه، غیرتمن اسلامي امت او په ځانګړي ډول د افغان مجاهد ولس په درد دردمن ولس دي .

خو له بده مرغه چي له نږدې دوه ولسیزو را پدېخوا دا ولس د خپلو حکمرانانو له خوا برغمل شوي او په دې اسلامي هیواد باندې د اسلامي نظام او اسلامي ایډیولوژۍ په نوم داسې متعصبو، دلنډې سوچ څښتن او بې تجربې افراد مسلط شویدي چي په ډېر کم وخت کي یې ایران او د ایران مسلمان ولس ته د ډول ډول بدمرغیو دروازې خلاصې کړې . په خپله خاوره کي یې د شیعه ، سني د تعصب اورته لمن ووهله، شیعه ګان او سنیان یې چي له څو پېړیو را پدېخوا یې د ورورۍ او اخوت پر بنسټ ژوند کاوه یو بل ته دښمنان کړل او د دواړو ولو په زړونوکي یې یو بل ته د کینې او نفرت سمندر څپانده کړ . په ایراني سنیانو یې دومره ظلم او تیري وکړ چي تاریخ به یې هیڅکله هېر نکړي چي د ایران زندانونه د ایراني سنیانو د تعذیب او شکنجو او پراخو اعدامونو ګواهان دي.

ایران په خوله د اسلامي انقلاب !! او له کفر سره د دښمنۍ دعوه کوي مګر په عمل کي یې له اسلامي هیوادونو سره دښمني او له کفر سره دوستي پیل کړېده .

د بیلګي په ډول ایران له پاکستان سره چي یو اسلامي هیواد دي له پخوا راهیسې دوستانه اړیکي درلودې خو هغه یې د پاکستاني شیعه ګانو په لمسولو او په پاکستان کي په تخریبي کارونو خپرې پیړې کړې او په پاکستان کي یې د شیعه ، سني د تعصب د تخم په کرلو د پاکستان مسلمان ولس له داسې ناورین سره لاس په ګریوان کړېدي چي که وواېو هره ورځ څو تنه پاکستاني مسلمانان ددې شوم فکر ښکار کیږي او یو د بل په واسطه وژل کیږي – چي همدا مسئله د پاکستان په امنیتي ستونزو کي لمړۍ درجه او لویه ستونزه ګڼل کیږي .

په عربي مسلمانو هیوادو کي په داسې هیواد ونه موندل شي چي د ایران اړیکي ورسره ښې وي دا د ایراني واکمنو د عدم درایت، ځان غوښتني، تعصب او له مسلمانو هیوادونو سره د دښمني پایله ده چي ایران یې په سیمه کي تجرید او منزوي کړېدي او یوازي له هندوانو او روسانو او په سیمه کي د کمونست او اسلام ضد واکدارانو او عناصرو پرته نور خیر خواهان نه لري .

په افغانستان کي له کمونستي کودتاه وروسته چي له هیواد نه د مهاجرینو لړۍ پیل شوه نو زموږ یو شمیر هیواد وال او په ځانګړي ډول زموږ شیعه ورونه د ژبني او مذهبي احساس او تړاو له مخې په دې تمه چي ایران یو اسلامي دولت دي او هلته به د دوي کورنیو ته د اسلامي او بین المللي اصولو له مخې پنا ورکړل شي او دوي به په مطمئن او ډاډه زړه د کمونستانو او وطن پلورونکو په وړاندي خپل سپیڅلي جهاد ته ادامه ورکړي ایران ته مخه وکړه . خو متأسفانه چي ایراني واکمنو د دوي د ټولو ارزوګانو او توقعاتو خلاف له دوي سره داسې ناوړه چلند خپل کړ چي انسان ورته هك پك شي . له کمپونو ته یې ورته ازغي لرونکي سیموته تاو کړل، خپل زندانونه یې پري ډك کړل، له ایران نه یې ورته دوزخ جوړ کړ، ډېر یې په زور له خپلي خاورې وویستل او یا یې وتلو ته اړکړل چي دا لړۍ لا هماغسې روانه ده .

له روسانو سره د افغانانو د جهاد له پیل راهیسې ایران افغانانو سره دښمني پیل کړه، د جهادي ډلو تر منځ اختلاف پیدا کولو ته یې ملا وتړله، د خپلو ګټو د ساتلو په غرض به یې کله یو په غیرکي ونیوه او کله بل، او زموږ شیعه ورونه یې په مختلفو ګروپو او دښمنو ډلو وویشل، خو د ایراني واکمنو دا شرارت په دې ځاي سرته ونه رسید تر دې چي روسانو د افغان مجاهد ولس په لاس رسواماتي وخوړه او د اسلامي نظام جوړولو ته لاره هواره شوه خو په ډېر تأسف سره د ایران افغان او جهاد دښمنو متعصبو زمامدارانو په ډېر مهارت او زړنګي سره داسې یو ائتلافي نظام او اداري ته زمینه برابره کړه چي په هیڅ ډول یې له اسلامي ، جهادي او عیني شرایطو او زموږ پولټیزو تړاوونو سره سمون نه درلود او دا کار زموږ د ملت د تیر څو کلن ناورین پیلامه او اساس وګرځید چي په نتیجه کي یې زموږ مجاهد ملت خپل ټول معنوي او مادي ارزښتونه په ملي او بین المللي سطحه له لاسه ورکړل .

د طالبانو د اسلامي تحریك په راتللو سره چي د دوي راتګ او د دوي کلکه اراده داسلامي دولت د قیام ، د اسلامي شریعت د تطبیق، دملي حاکمیت، دمځکني بشپړتیا او داستقلال لوي او عملي زیري و نو ایراني شرخوښوونکي زمامداران زموږ په کورنیو چارو کي لاسوهنو ته نور هم وهڅیدل چي په دې ترڅ کي د هغوي پرېنو نظامي او سیاسي تیري او تجاوز زموږ د هیواد په حریم باندي د هیچانه پټ ندي .

ایرانیانو چي ونه شوکولي د افغانستان د اسلامي دولت او مجاهد ولس له دښمنانو او دخپلو ګوډاګیانو سره دبیدریغه سیاسي ، نظامي او مالي مرستو په ترسره کولو په افغان مجاهد ولس د دوي د اراده خلاف د خپلې خوښې حکومت وتپي او له دې اړخه له غوښي مایوسي سره مخ شول نو وې پتیله چي که چیري د اقتصادي محاصري او بندیز له لاري خپل شوم اهداف زموږ په مجاهد ملت وتپي چي په دې ترڅ کي یې په خپل ګومان د افغانستان اقتصادي محاصري ته ملا وتړله او د ایران له لاري یې د افغاني سوداګرو په ترانزیټي بندیز ولګاوه . دا طبیعي ده چي د ایراني واکمنو دا اقدام به په دې حساس شیبوکي په افغانانو اغه اثر ولري خو حقیقت دا دي چي ایران به په خپلو دې هڅو د افغانستان د اسلامي دولت او ولس هیڅ هم کم نکړي. موږ کلك باور لرو چي افغانان دومره د کمزوري ارادي او سست همت خاوندان نه دي چي په دي ګواښونو او تهدیدونو به له خپل همت نه واوړي ، دا ازمویل شوي ملت دي او نورو ازمولو ته یې هیڅ اړتیا نشته .

ښه به دا وه چي ایران نور لږ له هوس نه کار اخستي واي ، بې ځایه لجاجت او شرارت یې پرېښي واي، د افغانانو غوښتنو او ارادو ته یې احترام کړي واي او د نورو حقوقو تر څنګ یې افغانانو ته د پخوا په څېر د خپل هیواد له لاري د سوداګري د مال وړلو او راوړلو لاره خلاصه پرېښي واي او له خپل اسلامي ګاونډي هیواد (افغانستان) سره یې داسې نوري هر اړخیزې مرستې هم کړي واي چي متأسفانه داسې یې ونه کړل او زموږ د هیواد او ولس په وړاندې یې د دښمنی د ډولو وسایلو نه کار واخیست او اخلي یې . د ایراني واکمنو دا عمل چي د اسلامي اخوت، ګاونډیتوب او بشري بین المللي ادابو او معیارونو سره هیڅ جوړښت او تړاو نلري ددې زمامدارانو د لویې بدمعاشۍ او نا عاقبت اندیشي ژوندي بیلګه ده چي هیڅکله به زموږ ولس د ایراني واکمنانو دا خصمانه اعمال هېر نکړي او اسلامي دولت به هم د ایراني زمامدارانو ددې پاي نه ستجونکو اعمالو په وړاندې بې تفاوته پاتې نه شي او د ملي سوداګرو د ستونزو د حل لپاره به نوري لاري چاري ولټوي چي په دې ترڅ کي یې همدا اوس اوس هڅې پیل کړېدي چي د پاکستان او ترکمنستان له لاري د ملي سوداګرو د مالونو واردولو او صادرولو ته لازمي اسانتیاوې برابري کړي .

خاطرهٔ دردناک

احمد ضیاء عمري

یا پروردګار عالما تو خود از روزي اول الي اخر شاهد عیني این واقعیت هستي که بعد از شکست امپراطوري قشون سرخ و غلامان حلقه بگوش آنان توسط مسلمانان اصیل افغان، روس ها با بي بشرمي بار دوم دست مداخله غیر مستقیم در امور کشور ما دراز کردند و با استفاده از تکتیك هاي فني مجاهدین و مسلمان واقعي افغان را پاګنده و خلع سلاح ساخته، نقاب مجاهد را بروي اجیران و جاسوسان سابق شان پوشانید تا بدین وسیله افتخار بزرگ ایکه در تاریخ جهان نصیب دلیر مردان مسلمان قلب آسیا گردیده بود ثمرش بخاك کشانیده شود و افغانها هرگز فرصت براي دریافت جبران خساراتیکه از طرف آنان بالاي ملت مظلوم ما تحمیل شده بود نیافتند و بوسیله نقاب پوشان افغانها را بنام ملیت ، قوم ، تنظیم ، نژاد به جان یکدیگر انداختند .

یا خالق یا مالك ! بتاریخ ١٣٧١/٥/١٦ روز دوشنبه ساعت ٥ عصر که هنوز آفتاب غروب نکرده بود ، افراد دد منشان دوستم یك نو جوان چهارده ساله بنام «پرویز» را در اثر هجوم دسته جمعي در منزل شان واقع شاه شهیده «ع» درحضور مادر و دو برادر یتیمش بعد از جور و شکنجه غیر انساني در اطاقیکه تازه حریق ګردیده بود زنده در شعله هاي آتش انداختند و دروازه آنرا قفل کردند در حالیکه فضاي منطقه را دود سیاه احاطه نموده بود پرویز با نام و فریاد دلخراش با آتش پنجه نرم میکرد و از سوي دیگر مادر و برادران کوچکش که قدر آن کریم را زیر بغل گرفته بودند تقاضاي شفقت از افراد درنده مي جویدند ولي هیچ سودي نداشت زیرا بعد از چند لحظه تمام امید شان به خاکستر مبدل ګردیده بود چیغ و فریاد مادر و دو برادر یتیم به تمسخر و خنده وحشي صفتان مي افزاید مادر بیچاره از زیر انبار خاکستر ها استخوان هاي سوخته پسرش رابیرون کشید و در زیارت شاه شهیده «ع» دفن نمود .

یا الحي القیوما! ما بنده ګان به چشمان ګناه ګار خود دیدیم و تا روز قیامت شاهد هستیم که خود فروخته شده ګان نقاب پوش در بابر خواست هاي روس ها و ایرانیان سر تعظیم فرود میاوردند و بناموس و عفت هیچ برادر مسلمان افغان خود اعتنایي نداشتند .

حق سنګر مومبارك شه!

حنیفه زاهد «شاه جوئی»

اتلو طالبانو لوی ظفر مو مبارك شه
په سرو وینو ګټلی حق سنګر مو مبارك شه
احساس د خپلواکی چه اسلامی وینه توده کړه
پوځونو د غلیم باندی یی ګډه زلزله کړه
په لاس کی تیره توره د حیدر مو مبارك شه
په سرو وینو ګټلی حق سنګر مو مبارك شه
جذبه د ټینګ ایمان ده چه یی پړك لکه برېښنا کړه
چابکو فاتحینو په حیرت کی مو دنیا کړه
ملګری فرښتو سره لښکر مو مبارك شه
په سرو وینو ګټلی حق سنګر مو مبارك شه
که هر څو د باطلو غداری پریوه خواده
بری به د هغو وی چه ملاتړ یی تقوی ده
سپیڅلی طریقه د پاك سر ورمو مبارك شه
په سرو وینو ګټلی حق سنګر مو مبارك شه
قربان مو له همته شم غیورو شهیدانو!
چه ساتی په سرونو خپل ولس له ظالمانو
په وینو کی ګلګون ملی اختر مو مبارك شه
په سرو وینو ګټلی حق سنګر مو مبارك شه
د ظلم استبداد توری تیاری مودی ګاللی
وحشت او ګډوډی کی تندرونه مو لیدلی
د حق له پلو شو سره سحر مو مبارك شه
په سرو وینو ګټلی حق سنګر مو مبارك شه
«زاهد» به افتخار کړی په سر تیرو غازیانو
شیندی به سره ګلونه په قبرو د شهیدانو
د سولی په اسمان خلی لمر مو مبارك شه
په سرو وینو ګټلی حق سنګر مو مبارك شه

قطعه

محمد حسن «حقیار»

خیالی انځور می نه شی د روح ستړی تمنا ته
خیال به دی را پاتی شی او خپله به عنقا شی
اوس څو می اشنا له اسویلیو هم ویریږم
هسی نه له شمعی نه د دود په څیر جدا شی

په کانو وله

عبداللطیف «نثار»

وطن ئی دی وران کړی سره روسان په کانو وله
بی دینه دی خلقیان هم پرچمیان په کانو وله
هر څوك چی مسلمان وی اشنایی ورسره بویه
چه نه وی مسلمان ټول کافران په کانو وله
د کونډو یتیمانو په پیسو چه وی مست شوی
بیا غنه تیره واخله دا کسان په کانو وله
رحمت ئی د باران په غنو څاڅکو کی چه نه وی
بیا خله ورته ګوری دا اسمان په کانو وله
چه وران ئی خپل وطن کړ د قدرت په سر ئی جنګ و
ملت دی پیژندلی غداران په کانو وله
عزت او دبدبه د مجاهد ئی کړله خاوری
ملحد ئی کړل ملګری دوستمیان په کانو وله
کامیاب به طالبان وی چه قانون ئی اسلامی دی
په منډه ترینه تیښتی خاینان په کانو وله
چه نشی آرامی «نثاره» مرګ دی لا بهتر دی
بیا لوی کمر را واخله او خپل ځان په کانو وله

د ادب مرغلری

ملی ترانه

حبیب الله «رفیع»

آزاد دی وی ، آباد دی وی واحد افغانستان
زانګو د عدل و داد دی وی واحد افغانستان
قومونه د ملت دی سره ورونه د ملت
د یوه بابا اولاد دی زوی او لونه د ملت
په ټولو بیادو نیاد دی وی واحد افغانستان
آزاد دی وی آباد دی وی واحد افغانستان
***

پښتون ، بلوځ، تاجك که هزاره دی یا ازبك
ساتی خپل پیوستون به د پخوا په شانی کلك
بو خو له یو اتحاد دی وی واحد افغانستان
آزاد دی وی آباد دی وی واحد افغانستان
***

اسلام زموږ دین دی او افغان زموږ ملت
ټینګ کړی له عمرونو یی زموږ ملی وحدت
مصؤن له هر فساد دی وی واحد افغانستان
آزاد دی وی آباد دی وی واحد افغانستان
ویش نشته د شمال ، جنوب، ختیځ او د لویدیځ
د خاوری دښمنانو ته د ټولو یو دریځ
رفیعه ! زنده باد دی وی واحد افغانستان
آزاد دی وی آباد دی وی واحد افغانستان

د ژوند خماری کیسی

پیرك «میا خیل»

له مراوی ګله بیا تازه باغ حرم جوړوم
ساقی د اړنګی میکدی به دم په دم جوړوم
ورنه‌یی هیر کړل د خودی او د قدرت خیالونه
شورو غوغا به په نآتویی د «ستم» جوړوم
د لمرنیزی به می تیاری هم د شمال څیری کړی
زه د فساد په ځالو بیا نوی ماتم جوړوم
د میوند څلی ویجوړی می پښتنی هوډونه
زه د ایوب په زاړه پله نوی قدم جوړوم
د ګورګین دام دی او تنکی پښی یی ریبی ویښی دی
زه له شاعر احساسه زخم ته مرهم جوړوم
د ژوند خماری کیسی اورمه د وخت له ژبی
رندانه خیال شم غزلونه د صنم جوړوم
١٣٧٦/٢/١٨

فغان عشق

محمد هاشم «هاشمی»

بنال ای دل بنال ای دل که دنیا چاه و زندان است
تو از فردوس اعلی و روانت نور سبحان است
در این خوان طبیعت تو غریب و نا شناسی دل
مشو مانوس با این جمع که در این جمع شیطان است
برو در خلوتی اشکی به غربت ریزو افغان کن
که اینجا یار تو آن قطره های اشك و افغان است
بزن بر آتش جانت ز آب دیده غربت
که موج آب و آتش باعث تکمیل انسان است
در این مأوی مراد آدمی در بین آتشهاست
که آتشها برای هر خلیل الله گلستان است
حذر کن از شراب و شربت صد رنگ این دنیا
که در هر نوش آن صد نیش و زهر تلخ پنهان است
بنی نوعی که تو هم مثل من صد جفا هستی
به قربان دل پاکت که آن خواهان احسان است
دل احساسمند پاك هر انسان با وجدان
در این دنیای دون پرور رقیب ظلم و طغیان است
الا غمخوار محرومان سر در زانوی غمها
در این دریای غم غواص شو کین یم پاکان است
در آذر رود آتش یا که بحر غم چو ابراهیم
الا ای«هاشمی» ، کین آتش و غم جنت جان است

غزل

عبدالله «بیکار»

زما په خوار کلی کی وموی د لونګو لښتی
د شنو بیریو د بادامو او د ینګو لښتی
ستا د «مصری» هوس نشه سنجرو و ګبیبلی
زما د «کنعان» د ځانستونو دګلرنګو لښتی
په بی غمی ریږی د بنکلو بنکلو شنه فصلونه
سیزی سنګلی پری کوی د غم رنګو لښتی
خدا زده چی سر به زرکی ګالی چیری ونیلوی؟
سپین غره! سوی دی د لمنګو د نکو دنکو لښتی
تنفتی له سویو څیرو کلی نه واړه تنزری
